

صدای طالبان

شپږم ټوک

تحریک طالبان پاکستان، د فتحې په درشل کې

- د خلافت د نښتون زیانونه
- د حقې لارې د ريښتيني مبارز زلمي ځينې ځانګړنې
- د تحریک طالبان پاکستان، د سیاسي چارو کمېسیون له عمومي مسؤل مولوي فقیر محمد باجوړي صاحب حفظه اللّه سره ځانګړې مرکه





ZIL QAADA 1445

https://umnews.net

MAY 2024

فهرست





سرليکنه

د آيي ايس پي آر وروستی مطبوعاتي کنفرانس او بې بنسټه دعوې

د پاکســـتان د پوځي اداري وياند احمد شريف څو ورځې وړاندې د تحريک طالبان پاکستان په اړه بې بنسټه ادعاوې وکړې، چې تاسو به د ټولنيزو رسنيو له لارې اورېدلې وي.

د پاکســـتان دغه پوځ تل د ناسمو معلوماتو او همدارازله واقعيتونو څخه د لريو او حقايقو برعکس خبرو پر بنســـټ له ګاونډيو هېوادونو سره د اړيکو خرابولو ناسمه او غير شرعي پاليسي غوره کړې ده، تر څو د دغه هېواد مالي منابع او اقتصادي ســـرچينې له ګاونډيو هېوادونو سره د لانجو او مشـــکلاتو د رامنځته کولو په لړ کې تر خپلې ناوړې ولکې او اشغال لاندې وساتي او د دې مظلوم مســـلمان ولس په وينو ګټل شوې شتمنۍ او روزي ورڅخه د تېر په څېر لوټ کړي.

له همدې امله ويلای شـــو، چې د آيي ايس پي آر د خبرپاڼې له مخې چې ګواکې تحريک طالبان پاکســـتان د افغانستان خاوره کاروي، له تبليغاتي کمپاين او ناسم پروپاګنډ پرته بل څه نه دي. زمـــوږ په زرهاوو مجاهدين د هېواد په ګوټ ګوټ کې د ناپاک پوځ او ظالمو امنيتي ادارو پر وړاندې په مقدس فرض عين جهاد او ســـپېڅلې مبارزه بوخت دي، چې د خيبر پښتونخوا اعلا وزير علي امين ګنډاپور، مولانا فضل الرحمن صاحب او محسن داوړ وروستيو څرګندونو يې هم ګواهي ورکړې ده.

د خيبر پښـــتونخوا او بلوچستان د خلګو له خوا د مجاهدينو مېلمه پالنه او همکاري او همدارازد هېواد په لراوبر کې هره ورځ د مجاهدينو په فعاليتونو ســـترګې پټول او ګاونډيان ملامتول د پوځي اسټېبلېشـــمنټ هغه لويه لاسته راوړنه ده، چې تش په نامه ځيني بې وجدانه ژورنالستان يې د څو روپيو په خاطر په رســـنيو کې په زور او شور سره تر خپل پوچ تبليغاتي کمپاين او خبري پوښښ لاندې يې راولي، ترڅو ناخبره عام وګړي پرې ګمراه او بېلارې کړي.
که ژورنالســـتان او د پاکستان عام وګړی غواړي چې په دې اړه له حقايقو خبر شي، نو بايد د تحريک طالبان پاکســـتان رسمي ادرسونه او رسنيز منابع هم وڅاري، يواځې د دښمن خبرې اورېدل او بيا يې خپرول او باور پرې کول يقيناً غيرسنجيدګي ده.



د استشهاد بهیر؛ له نبوي زمانې څخه تر یوویشتمې پېړۍ!

لیکوال: بلال خپلواک

هغه فدایي چې د تاریخ هسک آسمان پرې د استشهاد، فداکارۍ او شهکارۍ انعام ایښی دی، د استشهاد عظیم عبادت له نبوي عظیمې چینې څخه بیا تر یوویشتمې پېړۍ پورې له همدې بهترین کاروان سره د ځوانانو ملتیا، مینه او شمول د ګران جلیل القدر صحابي، حضرت علي رضي اللّه عنه پر پله او نقش چې عیناً هماغسې له خلوص، اللّه پرستي او صداقت سره پرې را زرغونېږي.

دا استشهاد و! چې له دلاورۍ او بهادرۍ سره یې پرې ناڅاپه د مشرکینو غوسې او فیصلې بربنډې او غلطې ثابتې کړې، چې د حضرت علي رضي اللّه عنه مخ را ښکاره شو او د اسلام ستر لارښود صلی اللّه علیه وسلم په ځای کې پر بستره پروت علي را څرګند شو.

د دارالندوه په کفري شوراکې د فېصلې دا عنوان وټاکل شو، چې نور د قریشو په قبیله کې را ټوکېدلی د اسلام د اوچتولو شان او شوکت څښتن او د جهالت له تور تمونو سره د مقابلې خاوند د ټل لپاره د مکې معظمې په انګړ کې مړ څښوو.

مشرکین خبر نه وو چې داسې زړه سوانده غیرتي ملګری لري چې دائر شوی پلان به په خپلو الهي معجزاتو سره درې ورې کړي؛ ګران پیغمبر د لمر څرک نېولي غرمې پر مهال د حضرت أبوبکر صدیق رضي اللّه عنه تر کوره راغی او هلته یې د مکې مکرمې څخه د هجرت کولو پلان او ترتیب تصویب کړ، د را روانې توري شپې په تراو یې خپل مبارک کور کې د ویده کېدو دا لوړ مقام او عالي حیثیت د اسلام درېیم راشد، خلیفه حضرت علي رضي اللّه عنه ته ورکړ، چې په هماغه بستره کې په ځادر یا پټو کې پټ شي ترڅو د مشرکینو په ګمان او نظر کې حضرت محمد مصطفی {صلی اللّه علیه وسلم} ورشي.

لکه څرنګه چې د مکې معظمې اوسیدونکو

مشرکینو او یهودو دا تجربه کړې او منلې وه، چې ګران لارښود پیغمبر حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د امانت په برخه کې خورا امین او د وسائلو په ښه ساتنه کې یې عالي مقام او درجه خپله کړې وه، نو د هجرت کولو دمخه یې حضرت علي رضي الله عنه ته دا امانتونه وسپارل او دا یې ورته زیاته کړه چې خپلو خاوندانو ته امانتونه او امانتي وسائل په سالمه توګه وسپاري تر څو امانت خیانت نشي.

فیصله د دار الندوه په انګړ کې داسې تصویب شوې وه، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وژلو پلان به سرته رسوي، نو چې شپې خپله لمن وغوړوله، دا شپه داسې د نورو شپو په پرتله له هیبت، کړاو او وحشت څخه ډکه ښکاریده، ځکه بله شوې هغه ډېوه یې وژله چې د جهالت اصول او قوانین یې نړولي وو، د شپې په لمن کې د کور تر دروازې د مشرکینو لښکري د دار الندوه د شورا په حکم د ګران رسول الله صلی الله علیه وسلم تر کوره را ورسېدي.

د ټولو مشرکینو سترګې د دروازې په لور متوجې وې او د خپلو تورو او غشو څوکې یې تیرې نیولې وې ترڅو د کور دروازې څخه راوتونکی ستر پیغمبر په نښه کړي.

د کور دروازې تر څنګ یې د مشرکینو لښکري چتمو ولاړې او د دروازې د خلاصون صحنه یې څارله، تردې چې دروازه خلاصه شوه، د قرآن پاک په تلاوت یې مبارکه ژبه لمده وه، د سورت یاسین لومړني ایتونه یې تلاوتول، تر اتم ایت پورې یې مبارکه ژبه جاري وه او د خپلو مبارکو لاسونو په توسط یې د شړو او خاورو ډکې لپې د راغلیو کفارو پر مخ ور وشیندلې، مشرکین په هوش ول، پرې راوتی پیغمبر صلی الله علیه وسلم یې له منځ یې روغ رمټ د ګران ملګري حضرت أبوبکر صدیق رضي الله عنه تر کور پخیر ورسېد او هغه ورسره د لارې ملګری او د جبل ثور په لور کرار کرار وخوځېدل؛

لاره اوږده، ستونزمنه، دردمنه او مشقتونو او سختیو پرغمل کړې وه. یو ځوان پرې راغی د مشرکینو لښکر ته یې وویل چې چاته منتظر یئ، هغوی وویل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته، هغه ورته وویل هغه درنه لاړ، تاسو مخونو ته یې شړې او خاورې هم در وشیندلې، خو د مشرکینو لښکر دا بې ځایه او هسې خیال یې وګاڼه تردې چې دوی د دیوالونو په سوړو کې پټ پټ ورکتل او پر هماغه ځای څادر کې پټ یې ولېده بیا یې هیله او تلوسه پیدا شوه چې دلته کور

کـې دی. بالاخـره دروازه یـې ور وتړکوله خـو د نه خلاصـون پـه صـورت کـې یـې دروازه ورماتـه کـړه او هماغـه ځـای تـه ځـان ورسـاوه. کله چـې یـې مـخ پـرې لـوڅ کـړ، ګـوري چـې حضـرت علـي رضـي اللّٰه عنـه پـې پـه بسـتره کـې پـروت دی.

د سیرت نبوي مؤرخین او لیکونکي لیکي:

لـه همـدې بـه بـل سـتر استشـهاد او فدایـي عملیـات چېرتـه وي، چـې پـه څـادر کـې نغښـتل شـوی حضـرت علـي رضـي اللّٰه عنـه د کفـارو پـر تېـرو تـورو او غشـو بانـدې ښـکار کېدلـی وای او رسـول اللّٰه صلـی اللّٰه علیـه وسـلم پـه بـدل او عـوض کـې یـې خپـل وجـود قربـان او فـدا کـړ، نـو همـدا استشـهاد ؤ چـې حضـرت علـي رضـي اللّٰه عنـه پـه خپـل قـوي هـوډ مشـرکینو تـه سـتر زیـان ور واړوه.

نـو مونـږ ویـلای شـو، چـې لومـړی فدایـي پـه اسـلام کـې حضـرت علـي رضـي اللّٰه عنـه و، چـې خپـل وجـود یـې پـه ښرګنـد ډول د مشـرکینو او یهـودو لښـکر تـه سـپر وګرځاوه.

نو آیا دا ځان وژنه وه؟

او کـه د اسـلام او د ګـران پیغمبـر دفـاع تـر ټولـو لـوړ استشـهادي عملیـات و!؟

د استشـهاد بنسـټ او بنیـاد علـي رضـي اللّٰه عنـه کېښـود، د دې بهترینـې لارې سـتر څـاروان لومړنـی استشـهادي مجاهـد حضـرت علـي رضـي اللّٰه عنـه شـو.

خـو د لارې څارونکـي یـې دومـره زیـات شـول چـې تـر نـن ورځـې د همـدې مشـال پـه بلولـو سـره، پېـړۍ پېـړۍ کېـږي چـې د استشـهاد لـه برکتـه سـتر قوتونـه او کفـري نظامونـه ونـړول او لا هـم نـړول کېـږي.

دا یـې ورتـه جوتـه او په علنـي ډول ور وښـوده چـې استشـهاد د بـري راز او د آزادۍ اخیسـتنې تـر ټولـو لـوړ منـار او مقبـول جهـاد دی.

د دې بهترینـې او نېکمرغـه لارې تلونکـي د الهي لقـاء پـه حاصلولـو او اخیسـتلو سـره لـه خپلـو نازکـو وجودونـو څخـه تېـر او د اسـلام اقامـت یـې پـه وینـې تویېدنـې فـداکارۍ او قربانـۍ سـره لـوړ او هسـک وسـاته.

مونـږ دا عهـد او ژمنـه بیـا تـازه کـوو، چـې تر هغـو بـه د کفـارو پـه مقابلـه کـې ځانونـه سـپر ګرځـوو چـې زمونـږ اسـلامي مقدسـاتو او شـعائرو تـه توهیـن او د سـپکاوی څخـه ډک چلنـد نـه وي درول شـوی او کفـار د اسـلامي ځمکـو څخـه پـه پـوره ډول نـه وي وتلـي.

جهـاد الهـي حکـم او امـر دی. دا حکـم یواځـې د یـوې خـاورې پـه آزادولـو او فتـح کولـو سـره نـه سـاقطېږي، بلکـې تـر هغـو بـه جـاري وي چـې د کفـارو او د هغـوی لارویانـو شـر او فسـاد تـه مـو د پـای ټکـی نـه وي ایښـی.

تر هغـو بـه د جهـاد او قتـال داعیه سـپیڅلي او تـازه سـاتو، چـې د مسـلمانانو مسـتضعفان سـړي، ښـځې، معصـوم ماشـومانو پـه شـمول ټـول اسـیران ورونـه او خوینـدې مـو د کفـارو لـه زندانونـو څخـه نـه وي آزاد کـړي.

ان شاء اللّٰه!

د تحریک طالبان پاکستان د سیاسي چارو کمېسیون له عمومي مسؤل، مولوي فقیر محمد باجوړي صاحب حفظه اللّٰه سره ځانګړې مرکه



محترمو لوستونکو!

د صدای طالبان مجلې مدیریت ویاړي، چې دا ځل یې د تحریک طالبان پاکستان د مخکیني مرستیال، د سیاسي چارو کمېسیون له عمومي مسؤل، ستر جهادي شخصیت مولوي فقیر محمد باجوړي صاحب حفظه اللّٰه سره ځانګړې مرکه کړې ده، داچې د سیمې او نړۍ په ځانګړې توګه د پاکستان د روان جهادي او سیاسي وضعیت په اړه د تحریک طالبان پاکستان سیاسي لیدلوری څه ډول دی!؟ راځئ دلته یې په ګډه لولو.

صدای طالبان مجله: محترم مولوي صاحب!

له هرڅه وړاندې لومړی خو موږ ستاسې څخه نړۍ منته کوو، چې د خپلو ډېرو بوختیاوو او مصروفیتونو سره سره مو موږ ته د مرکې لپاره وخت راکړ.

په دوهم قدم کې، که له هرڅه وړاندې د تحریک طالبان پاکستان د سیاسي وضعیت او لیدلوري په اړه راته ووایاست.

مولوي فقیر محمد: زه هم ستاسې څخه ډېر زیات مننداوی یم چې ناچیز بنده ته مو وخت ورکړ، اللّٰه تعالی دې ستاسې په ابلاغي چارو او خدمتونو کې مزید موفقیت او برکت واچوي.

تحریک طالبان پاکستان له سیاسي اړخه د خپلو ټولو تېرو دورو له غوره دورې څخه تېرېږي، د تحریک طالبان پاکستان معتدل شرعي جهادي سیاست په چټکۍ سره د پاکستان د اسلامي او جهادي فکر لرونکو ځوانانو په منځ کې ورځ په ورځ محبوبیت پیدا کوي، د پاکستاني ځوانانو یوه لویه برخه، چې موږ یې اټکل هم نه کاوو، زموږ په جهادي صفونو او لیکو کې شاملېږي. زموږ د احتسابي ادارې د کلني راپور له مخې تېر کال څلور زره نوي ځوانان زموږ په جهادي صفونو کې شامل شوي دي، چې د لوی اختر په مناسبت په خپل پیغام کې محترم امیر صاحب حفظه اللّٰه هم ورته اشاره کړې وه.

باید ووایم چې اوس د پاکستان اسلامپاله ولسونه او ځوانان په دې ښه پوه شوي دي چې د پاکستان د ټولو ستونزو منبع او د وطن

د تباهۍ اصلي لامل د پاکستان غلام او اسلام ضد ناپاک پوځ او غداره سیاسي کورنۍ دي او د دوی له ناوړه ولکې څخه د دې وطن آزادول او دلته د یوې اسلامي ټولنې رامنځته کول یواځې او یواځې د تحریک طالبان پاکستان د معتدل شرعي جهادي سیاست له لارې ممکن دي.

صدای طالبان مجله: محترم مولوي صاحب! د تحریک طالبان پاکستان په اداري جوړښت او تشکیل کې د سیاسي کمېسیون اهمیت راته تشریح کړئ.

مولوي فقیر محمد: تحریک طالبان پاکستان د ټول هېواد په کچه یو ستر جهادي تحریک دی او په زرګونو مجاهدین پکې شمولیت لري، داچې تحریک طالبان پاکستان د هېواد په یوه مهمه او باعزته جغرافیه کې قوي نفوذ لري، نو ځیني وختونه له بېلابېلو طبقو، ډلو او کوندونو سره بېلابېلې ستونزې رامنځته کېږي، چې حل کول يې د پاکستان د مسلمانو ولسونو د ګټو او مصالحو په خاطر ډېر زيات مهم دي، له همدې امله تحریک طالبان پاکستان د نورو اجتماعي مسایلو په څېر د سیاسي مسایلو د حل لپاره یو سیاسي کمېسیون هم لري، چې الحمدللّه د مشرتابه له لوري د ورکړل شوي پلان او لایحې سره سم په بریالیتوب سره کار کوي.

صدای طالبان مجله: آیا د تحریک طالبان پاکستان تر منځ په اوسني یووالي او راغلي وحدت کې د جهادي سیاست کوم رول شته؟

مولوي فقیر محمد: هو، بالکل. په حقیقت کې د تحریک طالبان پاکستان د نورو ادارو او کمېسیونونو د مشرتابه په څېر، د سیاسي کمیسیون مشرتابه هم په دې کې مهم او پراخ رول لوبولی دی.

صدای طالبان مجله: یوه بله مهمه پوښتنه چې د هر دویم انسان په ذهن کې ده، آیا سیاست او اسلام او جهاد جلا جلا پدیدې او مفکورې دي؟

مولوي فقیر محمد: هیڅکله نه، بلکې دا خو یوه بدیهي او ښکاره خبره ده او حتی عام مسلمان هم پوهېږي چې جهاد او اسلامي سیاست د اسلام یوه مهمه برخه ده، له اسلام څخه جلا کېدل يې د اسلام له یوې مهمې برخې څخه انکار کول دي.

صدای طالبان مجله: محترم مولوي صاحب! که د جهادي سیاست او بل لوري ته ډیموکراتیک یا جمهوري سیاست ترمنځ توپیر راته بیان کړئ.

مولوي فقیر محمد: ډیموکراتیک یا جمهوري سیاست اسلامي ټولنه ویشي، اسلامي ټولنه د کډوډۍ په لور بیايي، په ډیموکراتیک سیاست کې هر بې دین او سیکولر ګوند ته اجازه ورکول کېږي چې په اسلامي ټولنه کې خپل لادینیت او باطلو مقاصدو ته کار وکړي، اسلامي ټولنه په غربي تمدن

کې رنګول او د اسلامي ارزښتونو له منځه وړل یا کمزوري کول د جمهوري سیاست لویه کرېښمه او ځانګړنه ده.

بل لورته، د جهادي سیاست په پایله کې اسلامي نظام رامنځ ته کېږي، د لادینیت او بې دینۍ ټول خوځښتونه بندېږي، اسلامي ټولنه د اتحاد او اتفاق په لور ځي، د غربي تمدن پر ځای ټولنه په اسلامي تمدن سینګارېږي او اسلامي ارزښتونه پیاوړتیا مومي، د اسلامي سیاست په مطالعه کولو سره تاسو په دې اړه ډېر څه زده کولای شئ.

صدای طالبان مجله: د پاکستان د موجوده کرکېچن سیاسي وضعیت په اړه تاسې څه نظر لرئ!؟

مولوي فقیر محمد: پاکستان په سیاسي لحاظ یو ناکامه هېواد ګرځېدلی، د نړۍ اکثره هېوادونه یې اوس په بهرنۍ پالیسۍ باور نکوي، له ټولو ګاونډیانو سره یې اړیکې خرابې دي، داخلي سیاست یې هم بېثباته دی، پاکستان د خپل کمزوري سیاست له امله له سختو اقتصادي بحرانونو او امنیتي ستونزو سره مخ دی، تردې چې په دفاعي برخه کې هم په دې موقف او حالت کې نه دی پاتې چې ګواکې د کوم دښمن هېواد څخه د ځان دفاع وکولای شي.

صدای طالبان مجله: په سیمیز په ځانګړي توګه په پاکستاني سیاست کې د پاکستاني پوځ د لاسوهنو په اړه ستاسو نظر څه دی؟

مولوي فقیر محمد: برتانوي امپراتورۍ د خپلو استعماري اهدافو د ترلاسه کولو لپاره د پاکستان پوځ (چې په هغه وخت کې یې د هندو شاهي پوځ په نامه یاداوه) جوړ کړ، هر ځای کې به چې برتانوي امپراتورۍ کومه اړتیا، خطر او یا هم ضرورت احساس کړ، د همدې غلام پوځ په لېږلو سره به یې د فرنګي موخو د ترلاسه کولو لپاره د دوی مرداري وینې تویولې، د عثماني خلافت په نسکورېدو کې د دې پوځ اصلي رول دخیل و، د انګریزانو له وتلو وروسته، دوی د خپلو استعماري اهدافو د ساتنې لپاره دا پوځ دلته پرېښود، تردې چې نن ورځ هم د دې غلام پوځ اصلي موخه د نړېوالو استعماري قدرتونو د اهدافو ساتنه ده، که څه هم په دفاع کې یې دوی د خپل هېواد د مسلمانانو په وژل، خرڅولو، ورک کولو، اختطاف کولو او بندیانولو کې مرتکب شي، دوی یې هیڅ پروا نلري.

په سیاست کې یواځې لاسوهنه نه، بلکې د پاکستان سیاست ټل د پوځ لخوا یرغمل شوی، په هیڅ صورت نه غواړي چې آزاد سیاست ترسره شي. او دغه پوځ ته د خپل بادار لخوا همدا هدایت او سپارښتنې ورکړل شوي دي چې دلته باید عام خلک په هیڅ صورت له واقعي ازادۍ څخه برخمن نه شي.

صدای طالبان مجله: پاکستاني سیاستوالو ته تاسې څه پېغام لرئ؟

مولوي فقیر محمد: د پاکستان سیاسي څېرو ته زموږ پیغام دا دی، چې د پاکستان د ریښتیني هدف او اصلي مقصد (نظریهٔ پاکستان) په ساتلو او د اسلامي سیاست په عملي کولو سره د پاکستان د پوځ او اسټبلېشمنټ پر وړاندې زموږ په سپېڅلي جهاد کې زموږ ملاتړ وکړي او یا لږترلږه د هغوی په دفاع کې د خپلو وینو د تویولو څخه ځانونه وساتئ ترڅو هېواد له اوسني ناورین او خطرناک حالت او بحران څخه راووځي.

صدای طالبان مجله: تقریباً ټول پاکستانیان پدې پوهېږي، چې دلته د پوځي اسټبلېشمنټ په خوښه حکمرانان ټاکل کېږي، ټاکنې او انتخابات یوه ډرامه ده، خو سربېره پردې، د مرده باد او زنده باد د نعرو په بدرګه کولو سره په مختلفو جلسو او غونډو کې د تش په نامه مشرانو او قائدینو غوښتونکو ته څه پیغام ورکول غواړئ؟

مولوي فقیر محمد: دوی ته هم زموږ دا پیغام دی، چې تاسو دا بار بار آزمویل شوي سیاسي مشران لیدلي او تجربه کړي دي، نور نو د خدای په خاطر خپل قیمتي وخت، صلاحیتونه او استعدادونه له ضایع کولو څخه وژغورئ. د تحریک طالبان پاکستان په روان سپېڅلي جهاد کې خپله ونډه او ملي او اسلامي فریضه او مکلفیت ترسره او ادا کړئ، ترڅو خپلو ګرانو هېوادوالو ته په رښتیني ډول آزادي ور وبښو، او یا لږترلږه په نورو دیني، خیریه او اصلاحي کارونو کې ځانونه مصروف کړئ او د باطل له دربارونو څخه ځانونه لیرې وساتئ.

درېشی اغوستونکي داړه ماران

ليکوال: عبدالله مجاهد

ليکنه يوه او موضوع ګانې ګڼې دي، خو داچې د تحريک هدف تل درېشی اغوستونکي وي، هغه چې د اسلامي نظام د قيام په مخکې اساسي خنډ او رکاوټ دی، هغه چې د نړېوال طاغوتي نظام ساتونکي دي، هغه چې د فاسدو او ظالمو واکمنانو محافظين دي، هغه چې په هېواد کې د فساد، بد امنی او ناکراريو اصلي سرچېنې دي، او په اصل کې همدا درېشی والا د هېواد او هېوادوالو اصلي دښمنان دي، نو له همدې امله به په همدې موضوع تم او ورسره مل په څو نورو خبرو وغږېږو.

نن سبا په پاکستاني رسنيو کې د وردی والا يا درېشی اغوستونکي د خبرونو سرټکي دي. د وردی اغوستونکو په اړه يو خبر د اختر په ورځ په ټولنيزو اجتماعي رسنيو کې خپور شو، داسې چې د سويلي پنجاب اړوند بهاولنګر ضلع کې د پوځ يو کاروان د پوليسو په تانې بريد کړی او څو تنه پوليس افسران او مامورين يې په بې رحمانه ډول شکنجه کړي، د يادې پېښې ويډيوګانې اوس هم په ټولنيزو پاڼو کې موجودې دي. د سرچينو تر مخه د اختر څخه دوه ورځې وړاندې د پنجاب پوليسو په يو کور د خبرداري ورکولو څخه پرته چاپه واچوله، چې د کور څښتنانو ورغلي پوليس يرغمل کړل، چې له دې څخه تر خبرېدو وروسته نور پوليس هم د پېښې ځای ته راورسيدل، د کور څښتنان او وګړي يې شکنجه کړل، داچې د پوليسو لخوا په شکنجه شويو وګړو کې يو يې د يو پوځي کوماندويي سرتېري ورور و، نو په ځواب کې پوځيانو د اختر په ورځ پر تانه هجوم ور وړ او تانه کې موجود ګڼ شمېر پوليس افسران او مامورين يې په بې رحمانه توګه لت وکوب او شکنجه کړل.

يادې پېښې پوليسو ته د دوی مقام او حيثيت ور وپېژند، او بلخوا يې دا هم وروښوده، چې که تاسې څومره هم له ځانه د سياستوالو، لنډغرو، زورواکو او پوځي جنرالانو ښکارزن سپي او تالی څټي غلامان جوړ کړئ او د دوی په اشارو عام خلک په عذاب او تنګ کړئ، خو بيا به هم اشتباءً د يو پوځي د شکنجه کولو په لړ کې تاسې لوړه بيه پرې کوئ. او همداراز دا احساس يې هم ورکړ، چې د پوځ په وړاندې ستاسو هېڅ اهميت او حيثيت نشته او له هرڅه برعکس پوځيان د هيڅ يو قانون او آئين تابع ندي.

د يادې پېښې په اړه د اجتماعي رسنيو کارونکو او شنوونکو بېلابېلې په زړه پورې او خوندورې تبصرې کړي:

مشهور ديني عالم، مفتي شهاب الدين پوپلزي ليکلي چې: «د سپي او خنزير ترمنځ په نښته کې مونږ د نښتې پلويان يو».

ځينو ليکلي، لکه څنګه چې پوليس په عامو خلکو ظلمونه کوي، نو په دې حساب د دوی سره هم ښه وشول.

عادل راجه په خپل ايکس يا ټوېټر پاڼه

لیکلي، چې د پاکستاني پوځیانو څخه هم د پنجاب پولیس جوړ شوي.

پېژندل شوي ژورنالیست عمر چیمه لیکلي: د پوځ ذهنیت د یوې اداري په پرتله د یوې قبیلې څخه زیات دی، د کومې قبیلې په یو نفر چې کله زور زیاتی وشي، نو ټوله قبیله په مخالف لوري برید وکړي، دا پېښه د پوځ لپاره هیله بښونکې نه وه، نو په دې اساس باید ټوله قبیله په عام محضر کې ښښنه وغواړي.

یو بل شاغلي لیکلي: دا زمونږ د وردۍ اغوستونکو ټولنیزه رویه ده، که شین رنګ وي، که خړ رنګ او که تور رنګ، عام خلک تل مدام د دوی د ظلم او زیاتي ښکار شوي دي.

خو تر اوسه لا په رسنیو کې دا پېښه نه وه سړه شوې، چې ورسره هم مهاله بله یوه ویډیو لاس په لاس شوه، په کومه کې چې لیدل کېږي، چې یو پولیس سرتېری په ړېل ګاډي کې په یوې ښځې تشدد کوي.

داسې خبرونه هم ترلاسه شول چې ګواکې د ړېل پولیسو یاد سرتېری د وظیفې څخه شړلی دی.

ورته مهال یوه بله ویډیو هم په اجتماعي رسنیو کې لاس په لاس شوه، چې پکې د میدان هوایي یا ایئر پورټ ساتونکی افسر یوه وړه انجلۍ له ویښتو نیسي او په ځمکه یې غورزوي.

د سوشل میډیا د تاثیر له امله یاد سرتېری هم د وظیفې څخه لیرې کړای شو.

دا د وردۍ اغوستونکو او درېشي ځښتنانو هغه کارنامې دي چې په تېرو نېږدې څو ورځو کې د خبرونو سرټکي وګرځېدل، خو بلخوا هره ورځ په پاکستان کې د دوی لخوا داسې قسمه ناوړه کړنې ترسره کېږي.

د پاکستان عوام د ډېر مخکې څخه د دې وردیو والا د ظلم او زور ښکار دي، ځکه خو دا ناري هسې ندي مشهوري شوې چې: ی جو دشتګردی اس ک پیچ وردی .

یانې؛ د ترهګرۍ د پېښو شاته د دې وردۍ والا لاس دی. د دې شعار ترشا د ظلم، وحشت او زورزیاتي یو اوږد تاریخ پروت دی.

د بدنامو درېشیو دا ځښتنان ټولو خلکو ته د غلامانو فکر کوي. دا درېشي اغوستونکي داړه ماران ځانونه د ټولو قوانینو او مقرراتو څخه لوړګڼي. دوی په غلا، چور چپاو او اختطافونو کې ککړ دي. همدا خلک د پاکستان وسایل او سرمایې د موړکانو په شان لوټوي.

دا درېشي اغوستونکي په پاکستان او همداراز د پاکستاني ولسونو او عوامو په اوږو یو اضافي دروند بار دی. د دوی څخه تر خلاصون پرته په پاکستان او بلکې په ټوله سیمه کې سوله، ثبات او خوشحالي راتلل ناممکنه ده.

پاکستاني عوام د دې وردۍ د ظلمونو څخه د ځان خلاصولو او یو ښه مستقبل لرونکي او هیله منده ژوند لرلو او په پاکستان کې د سولې او خوشحالۍ راوستلو لپاره باید د تحریک طالبان پاکستان سره اوږه په اوږه ودرېږي، ترڅو دا هېواد او اوسېدونکي یې د خپل اصلي هدف په لور رهي شي.

په مشرق او مغرب کې د صحابه کرامو رضي الله تعالی عنهم مزارونه د څه لپاره؟!

ليکوال: محمد جاوېد حنيف

د اسلام اوايل (لومړني) وختونه وو، د مسلمانانو تعداد کم و، د مشرکينو پر وړاندې د اسلحو او نورو څيزونو په نسبت ډېر کمزوري وو، په مسلمانانو له هر لوري فشار او بېلابېل تکاليف اوج ته رسېدلي وو، نور نو مسلمانان د الله تعالی د رسول صلی الله عليه وسلم له لوري دوه امرونو ته انتظار وو، چې يا به د مشرکينو پر وړاندې وسلواله مبارزه شروع کوي او يا به هجرت کوي، چې بالاخره د الله تعالی له لوري مسلمانانو ته د هجرت اجازه وشوه، دوی لومړني خلک او د هجرت لومړنۍ ډله وه چې خپل خپلوان، خپل ټاټوبي او هرڅه يې د الله تعالی جل جلاله د رضا او د توحيد د عقيدې لپاره پرېښودل، مسلمانانو لومړنۍ هجرت په پټه د شپې له خوا څخه حبشې ته وکړ، د اسلام په تاريخ کې دا لومړني خلک وو چې د خپلو کورنيو څخه د جلاکېدو وروسته يې د خپلو وطنونو پرېښودلو ته هم ملا تړلې وه، دوهم هجرت بيا په ښکاره ډول و، چې له بېلابېلو ربړونو سره مخ و، خو دا ځل رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپله هم د هجرت اراده وکړه چې بالاخره يې خپل خوږ وطن پرېښود خو د رسول الله صلی الله عليه وسلم هجرت په پټه و، ځکه چې مشرکينو يې د شهيد کولو اراده کړې وه، او عملاً يې کور هرڅه تر محاصرې لاندې و.

راځم اصلي خبرې ته، هغه دا چې د صحابه کرامو رضي الله عنهم هجرتونه، جهادي سفرونه او آن په مياشتو مياشتو مزلونه د مسلمانانو لپاره څه پيغام لري، که مونږ او تاسې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له وفات وروسته حالات مطالعه کړو، نو وبه وينو، چې ډېر کم شمېر صحابه کرام وو چې د خلافت د څارو د سمون لپاره په مدينه منوره کې پاتې شوي دي، نورو ټولو د اسلام د دين د خپرولو لپاره د جهاد مقدسې لارې ته مخه کړې وه، دا يوازې افسانه نه ده چې مونږ دې خلک پرې تېر باسو، بلکې مونږ اوس هم د هغو صحابه کرامو رضي الله عنهما مزارونه په افغانستان، عراق، شام، ايران او مصر کې پيدا کولای شو او موجود دي، چې د اسلام د دين د خپرولو په پار يا شهيدان شوي او يا په دغو ځمکو کې يې د ژوند پاتې موده تېره کړې ده.

دا ټول هغه څه دي چې مونږ ته دا رانښيي چې اسلام په يوې ځمکې پورې محدود نه دی، بلکې اسلام يو نړيوال او عالمي دين دی چې د الله تعالی په ځمکه يې بايد د الله تعالی بندګان تطبيق او پلي کړي او جهاد د دې هدف د پوره کولو لپاره يوازينۍ لاره ده چې مسلمانان کولای شي د دې په واسطه اسلام د نړۍ هرې برخې ته ورسوي، يا لږترلږه هغه پخوانۍ برم بېرته ترلاسه کړي. بعون الله



تحریک طالبان پاکستان، د فتحې په درشل کې

لیکوال: ابو عمر امتخیل

کله چې په ۲۰۰۱ میلادي کال نړۍوال صلیبي ایتلاف د امریکا په مشرۍ په افغانستان هجوم وړور او هغه اسلامپال ټاټوبی یې اشغال کړ، زموږ اسلامپال ټاټوبی (پاکستان) یې هم افغانستان ته د ځمکې او هوا له لارې خپله اکمالاتي لار وګرځوله.

پاکستان کې د هغه وخت د ایمان پلورونکو سالار (پرویز مشرف) هم داسې ګڼلې وه، چې نور نو په سیمه کې داسې څوک نه شته، چې تر قیامته د جهاد نوم په خوله واخلي؛ نوځکه خو یې امریکا ته د نورې وفادارۍ ښودلو په هدف نه یواځې مجاهدین په صلیبیانو پلورل پیل کړل، بلکې د مظلومې خور عافیه صدیقي په ګډون یې ډېرې خویندې هم ورلیلام کړې. إنا للّه وانا الیه راجعون

چا دا ګومان هم نه کاوو، چې د تقریباً پنځوس صلیبي هیوادونو مقابله دې وکړل شي او دا چې پاکستان خو به تر پایه د صلیبي اهدافو لپاره د امن بستر وي، خو اللّه عزوجل ته بې پایه حمد او ثنا، چې د بشري ګومانونو خلاف یې د مجاهدو شازلمیو د نه هېرېدونکو سربښیندنو او شهیدانو د قربانیو په برکت نه یواځې د صلیبیانو او امریکایي غلامانو ملا ماته کړه، بلکې په سیمه، خصوصاً پاکستان کې یې هم د امریکا غلامان له ماتې، مایوسۍ او ډار سره مخ کړي دي، ځکه هغوی ښایي اوس درک کړي وي، چې نږدې دوه نیمې لسیزې پاکستان کې د امریکا ګټو لپاره لمبې بلې دي، وزیرستانونه لوټې لوټې شول او اوس د دې اور لمبې تر پنجاب او ټول هیواد کې د خپرېدو په حال دي.

هو؛ دا غلامان او وطن پلوروونکي ځکه هم اوس په اندېښنو او ډار کې ډوب دي، چې لسګونه کلونه د اسلام، وطن او خپل مؤمن ملت خلاف تر جنګېدو وروسته دا چې اوس الحمدللّه تحریک طالبان پاکستان د بري په درشل کې دی؛ نو د مجاهد تېره توره خپلې مرۍ ته په نږدې کېدو سره، خپل بد انجام ویني.

په اسلامپال او جهادپال پاکستان کې وروستیو فاتحانه جهادي کوډارونو وښوده، چې د اللّه عزوجل په نصرت مجاهدین ورځ تر بلې په عمومي اوضاع هر اړخیز تسلط پیدا کوي. او بل داچې له تحریک طالبان څخه د پاکستان د مؤمن ملت ملاتړ، پوځ او نورو اجیرو نظامي ارګانونو ته دا وښوده، چې د پاکستان حکومت په سیمه کې د امریکا د ګټو د خوندي کولو پرته بل هدف او ارمان نه لري؛ نو ځکه خو یې حقیقت درک کړی او اوس د هېواد په بېلابېلو سیمو کې مجاهدینو سره اړیکې نیسي او د خپلو دندو د پرېښودو ضمانتونه ورکوي. تحریک طالبان پاکستان په نورو پوځیانو هم غږ کوي، چې له دې فرصت څخه ګټه واخلي او نور دې د اسلام او پاکستان د مؤمن ملت او عظیمې نظریې خلاف له جګړې لاس واخلي، کنې سبا به له شرمه ټیټې سترګې او زیړ مخونه ولاړ وي، ځکه نور د پاکستان د مؤمن ملت د صبر کاسه ډکه شوې، د دې هیواد اصلي بچیان او وطن پلوروونکي یې ډېر ښه پېژندلي دي؛ نوځکه خو یې تحریک طالبان پاکستان پورې خپلې ټولې هیلې تړلې او د حکومت د ړنګولو او خپلو اصلي بچیانو (مجاهدینو) ته هېواد او نظام د ورسپارلو په حال کې دي.

إن شاء اللّه تعالی

یو بې ځاروانه امت یم

لیکوال: نور الهدی خلیل

کله کله د ماضي په هنداره کې وګورم، زیات حالات او بېلابېلې برخې مې ذهن ته سره راټولې کړم، د عروج او زوال دواړه وختونه مې سره پرتله کړم، د خپل تېر شوي عمر د عروج او لوړوالي حالات مې زیات دي چې د شان او پرتمینه ډک وختونه مې درلودل، کله کله به د زوال او ټیټوالي حالات هم مخې ته راتلل، مګر د مایوسۍ، بې وجدانۍ او سر ټیټۍ دومره ټیټې درجې ته نه وم رسېدلی چې له امله یې هم د ایمان خرڅوونکی اووسېږم، هم د خپلو شتمنیو، هم د عفتونو او هم د خپلو اسلامي ارزښتونو!

زه هغه اسلامي امت وم، چې د واه معتصما د آواز لپاره د وخت معتصم د عیسایانو پوره بادشاهي نسکوره کړه، زما واک او ځواک به د فرانسې، چین، قفقاز اندلس او په ټوله افریقا باندې ځلیده، دا هغه وخت و چې اروپایي پاپانو به د یو او بل له شر څخه د ځان ساتنې لپاره زما د خلافتونو په دروازو کې کونډې وهلې، په تېر کې زه داسې امت وم که چېرته به کوم ایمان پلورونکی راپیدا شو او زما د خرڅولو لوبه به یې پیل کړه، نو حتماً به ایوبي موجود و چې نه یوازې دا چې سرونه به یې تري بېلول، بلکې اقصی به یې هم فتحه کوله.

زه د خالد بن ولید، محمد بن قاسم، قتیبه بن مسلم، یوسف بن تاشفین، موسی بن نصیر، طارق بن زیاد، سلطان محمود غزنوي، صلاح الدین ایوبي او سلطان محمد الفاتح په شان د لویو فاتحینو غېږه وم، هغه وخت د داسې خلافت څښتن وم چې آن د امریکا له متحده آیالاتو څخه به یې هم باج اخیسته، د عزت او عزمت څخه ډک امت وم.

زیاته موده وشوه چې د لیوانو په منځ کې د بې شپونه رمې په شان یوازې پاته یم، چې د هر طرف څخه د وږو لیوانو له خوا داړل کېږم، د زیاتو داړل کیدو له امله اوس بیخي زیات زخمي زخمي یم، صحت مې زیات خراب شوی ده، د کرښو په واسطه په زیاتو برخو ویشل شوی یم، هغه حق پرست مجاهدین چې غوارې اسلامي نظام قایم وساتي، د جهالو خوارجو له خوا تکفیرول کېږي، او په شهادت رسول کیږي. له فکري اړخه پوره اشغال شوی یم داسې اشغال شوی چې رغېدل مې آن د فکر په یوه څنډه کې هم نه احساس کېږي.

خلاصه دا چې یو بې اسرې او بې ځاروانه یتیم امت یم، چې کله به بیا د ایوبي د اسونو شنهار د اقصی تر انګړ پورې راورسېږي.



د حقې لارې د ريښتيني مبارز زلمي ځيني ځانګړني

(لومړۍ برخه)

ليکوال: پوهنمل محمد اسحاق شهيدزوی

د حقې لارې ريښتيني مبارز به تر ټولو دمخه خپل ځان د سپيڅلي شريعت په اصولو برابروي، د ټولو شرعي اوامرو منونکی به وي، سيرت او صورت به يې په شرعيت برابر او په يو اللّه جل جلاله به کلکه عقيده او باور لري، يوازې خپل رب جل جلاله به د خپل خير او شر، ژوند او مرګ، لوږې او تندې، برې او ناکامي او مالک، واکدار او څښتن بولي. پرته له لايزال رب څخه له بل هيچا وېره نلري او د هر طاغوت پر وړاندې هسکه غاړه پرته له کومې وېرې مبارزه کوي.

تر بل هرچا زيات پرهېزګار وي، په پوره اخلاص الهي اوامر پرځای کوي. د فرايضو، نبوي سنتو، نوافلو، اذکارو پابندي کوي.

تر ټولو مهمه دا چې د شپې عبادت کوونکی وي، له ټولو ناوړه شيطاني کړنو بېزار وي، تر بل هرڅه د خپل نفس تذکيې ته ډېره پاملرنه کوي. له ريا، ځان ښودنې، قوم پالنې، انډيواليزم کرکه کوي او د ټولو اړيکو بنسټ يې د ولا او برا پر اساس جوړ وي. دوستي او دښمني يې د اللّه جل جلاله لپاره وي، عابد تر بل هرچا د ولا او برا په مفهوم ښه پوهېږي، د ښو اخلاقو څښتن او د حلال رزق ګټونکی وي.

خپلې ټولې نفسي او شيطاني غوښتنې تر پښو لاندې کوي او هيڅکله پر مادياتو پورې زړه نه تړي، تر بل هرچا په ټولنيزو چاروکې فعال ونډه اخيستونکی او د ټولنيزو ارزښتونو پالونکی وي، علم حاصولو ته زيات هڅاند وي، همېشه هڅه کوي ترڅو په علمي لارو چارو تکيه وکړي، ديني او عصري علومو کې کافي مالومات او مطالعه لري او ټول استدلال يې علمي وي، له ناپوهۍ او بيځايه ناستو څخه کرکه کوي، د پرديو له شومو توطيو او اهدافو باخبره او پر وړاندې يې دريدونکی وي، د سنګر او دفتر په ټولو چارو برلاسی وي، د قلم او ټوپک په کارولو او ارزښت تر بل هرچا ښه پوهېږي.

دويم؛ د کورنۍ اصلاح کوونکی وي:

د مبارز زلمي بله ځانګړنه دا ده، چې په خپله کورنۍ کې د الهي احکامو او نبوي ارشاداتو تطبيق ته پوره پاملرنه کوي او د کورنۍ چاپيريال يې له هر ډول منکراتو، شيطاني کړنو پاک وي، هڅه کوي چې ترڅو د ځان لپاره صالحه ميرمن وټاکي او له هغې سره په ګډه د خپلو اولادونو سالمه ښوونه او روزنه وکړي، داسې روزنه چې هيڅکله به د پرديو د فکر او عقايدو تر اغيز لاندې نه راځي، دا راز اولادونه به يې د هرې باطلې عقيدې پر وړاندې بريالۍ مبارزې ته چمتو وي، د ديني او عصري علومو زده کړه اولادونو لپاره د وخت اړتيا بولي، د خپلو اولادونو سالمه روزنه د مسلمه امت د بريا رازګڼي او هڅه کوي داسې اولادونه وروزي چې راتلونکی نسل د طاغوت له هر ډول توطيو څخه وژغوري.

جهاد او قتال؛ د اسلام او اسلامي عقیدې د تحفظ په ویاړ!

لیکوال: بلال خپلواک

کومه جهادي قافله او کاروان چې د خپلې خاورې د ساتنې ادعا او د وطن په مینه کې د افراط تر ولکې محدودیت ولري، هیڅ نیک اقدام عقیده او فکر ونه لري، هغوی اصلاً د اسلام شان او شوکت کمول او پیکه کول غواړي.

دا مردوده نظریه د اسلام مبارک دین په عملي چوکاټ کې هیڅ ارزښت، کمیت او کیفیت نه لري. دا دیو ځو خاینانو لخوا په ناقص باور منځ ته راغلې باطله نظریه ده. څومره قدر او قیمت چې اسلام ته منظور او مقبول دی، همغومره د هېواد وطن منظوري او مقبولیت څرک په شرعي برحقه آسمان کې نه را لګېږي. د شرعي أحکامو تنفیذ او اقامت د جهاد او قتال په تطبیق او عملي میدان ته د تورو او زهرو وژونکو موادو په کوزېدو کې رانغاړل شوی دی. دا هسې یو خوب او خیال دی، چې بغیر له جهادي ځواک، د کفارو او د هغوی لارویانو زور کمول او طاقت یې په صفر سره ضرب کولو ته ناست او تر څنګ یې د دمې په خاطر خپلو جهادي قافلو ته د معطل کېدو زېری ورکوي.

جهاد او قتال د باطلو فرقو، معاصرو فتنو او کفري قوتونو تر ټولو غوره درملنه ښودل شوې ده، دا ځکه چې دلته د کفارو هغه مادي زور دومره ژر له منځه ځي چې د انساني عقل په باور شننه او تبصره ناقصه او زیانمنه در پېژني.

د افغانستان پر پاک حریم کله چې یرغلګر راغلل، دا شعار یې غږاوه، چې مونږ تاسو ته د خیر ښېګڼې او د وطن ابادولو، د سړک پخولو، د لویو اقتصادي پروژو په برپایه کېدو سره مرستندویه یو. له غلامۍ مو راباسو او د سیکولرې بیان آزادۍ په کامله توګه درته سپارو.

خو دا هرڅه د یوې غیرتمنې او جهادي قافلې په ختمولو او د برحقې داعیې په ورکولو سره دا حقیقت را څرګندیده.

د اللّٰه تعالی د رالېږل شویو احکامو په قائمولو باندې مکلفیت او مسؤلیت لرو. دا مسؤلیت هم اجتماعي بڼه لري او هم انفرادي. د قرآني احکامو د تطبیق او عملي کېدو په صورت کې به ځیني خطرون، ستونزې، دردونه او طوفاني هیبتونه به مخې ته راځي او د شنډېدو پوره احتمالي څپې به زمونږ عزمونه او قوتونه نشې نړولای.



بلکې؛ د دې سترو بحرونو سره به داسې مقابله کوو، لکه ابراهیم علیه السلام چې په اورکې د لولپه کېدو احتمال هیڅ ځرک نه را لګېده، ولې؟ هلته نمرودیانو او فرعونیانو د خپلې خدایی او پاچایی لپاره زمونږ عقیده او فکر په لمبو کې ورک او ختم نه کړ، بلکې د دې مؤمن کاروان اجتماعي فکر او عقیدې پر مټ مو نمرودیان او د هغه وخت فرعونیان په خپلو ځنځیرونو او ولچکونو کلک کلک وتړل، د بیا خلاصون هیله مو ور ووژله، اسلام د دې وړوکو او ناچیزه پولو او بندونو لپاره د مقابلې لښکر او حزب اللّه لري. هغه داسې الهي کاروان دی چې د کړاوونو او ربړولو سره یې د مقابلې توان او طاقت لا نورکلکېږي او د غاصبو کفارو په وړاندې داسې مستحکم او اوسپنیز هوډ لري چې ځنځیرونه ورته خپله د آزادی الهام او حریت بشارت ورتلقېنوي.

د اسلام د تحفظ او قائمولو په پار به د منصور په شان د دار تر رسیو رسېږو، خو همت او استقامت به هیڅ کله نه محدودو. د رخصت پر ځای به د عظمت په لور قدمونه اخلو. له سختیو سره به د اسانی په تورو جنګ کوو. تر څو اسانی د تورتم دروازې خلاصې او د ظالمانو توره ویر لړلې فضا په اسلامي عدالت انصاف او شریعت باندې خړوبه کړو.

له تورتمونو سره د مقابلې یو راز دا دی چې هیڅ کله به بیا غاصب دښمن ستا اسلامي او قرآني احکامو ته د بد نظری او د ښکاره حقارت زړه ښه نه کړي.

جهاد د اسلام فطرتي او ذاتي غوښتنه ده، دا فطرت یواځې د اللّه تعالی د لارې لارویان لري.

هر امېدخور او د دنیا په جوش ناز غولېدلی یې نه لري.

د عشر بيان

ترتيب کوونکی: مولوي عبدالرحيم

قرآن محيد کې اللّٰه تعالی فرمايي:

يَآأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا أَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ.

(سورة البقرة: ۲۶۷)

ژباړه: ای د ايمان خاوندانو! خرچ کړئ د خپلو هغو پاکو مالونو څخه چې تاسو ګټلي او د هغو مالونو څخه چې راخيژولي مو دي ستاسو لپاره د ځمکې څخه.

وَآتُوْا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ وَلَاتُسْرِفُوْا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ.

(سور الانعام: ۱۴۱)

ژباړه: او ورکړئ حق د اللّٰه تعالی په ورځ د لَو او زياتی مکوئ، يقينا اللّٰه تعالی نه خوښوي زياتی کونکي.

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِيمَا سَقَتِ السَّمَاءُ وَالْعُيُونُ أَوْكَانَ عَثَرِيًّا الْعُشْرُ وَمَا سُقِيَ بِالنَّضْحِ نِصْفُ الْعُشْرِ.

ژباړه: له سال بن عبدالله رضي الله عنه له خپل پلار څخه روايت کوي. وايي: هغه ځمکه کې چې اسمان او چيني يې خړوبوي يا پخپله خړوبيږي لسمه ده او چې (د ارټ يا د کوهي په بوکه باندې) په راښکلو سره خړوبه شي نو شلمه ده.

د عشر پيژندنه:

عشر د ځمکې د حاصل زکوة دی، که چېرته ځمکه بارانې وه او د باران په اوبو خړوبيدله نو د حاصل پورته کېدو په وخت کې د هغه د لسمې برخې ورکړه د اللّٰه تعالی په لار کې واجب ده. او که چېرته ځمکه د باران په اوبو نه خړوبيدله نو بيا د هغې په حاصل کې د شلمې برخې صدقه کول واجب دي.

د امام ابو حنيفة رحمه اللّٰه په نزد د عشر هيڅ کوم نصاب ندی معلوم، بلکې که حاصل کم وو او که زيات، د حاصل مطابق عشر واجب دی.

د عشر واجب کيدو شرطونه:

(۱) اسلام، ځکه چې عشر خالص عبادت دی او کافر د عبادت اهل نه دی.

(۲) د ځمکې عشري کېدل، ځکه چې په خراجي ځمکه باندې عشر واجب نه دی.

(۳) له ځمکې څخه د حاصل ترلاسه کول، ځکه که يو څوک د غفلت يا کوتاهي له امله حاصل ترلاسه نکړي نو عشر تري ساقطيږي.

(۴) حاصل داسې شی وي چې عموما تري ګټه ترلاسه کيږي لهذا واښه او ګيا چې د چا په ځمکه پخپله راخيژي هغې کې عشر نشته.

په عامو شرعي احکامو کې عاقل او بالغ کېدل هم شرط دي، مګر په ځمکه باندې د عشر په واجب کېدو کې همدغه دواړه شرطونه هم نشته، ځکه چې د عشر واجب کېدو لپاره د ځمکې د څښتن عاقل او بالغ

کېدل ضروري نه دي، د زمکې څښتن ولو که کوچنی یا لیونی دی مګر له زمکې څخه یې چې حاصل ترلاسه شوی نو په هغه کې عشر واجب دی او د هغو د اولیاؤ (سرپرستانو) په ذمه یې اداء کول فرض دي، پرته له زکوة، ځکه چې هغه د کوچني او لیوني په مال کې واجب نه دی.

د عشر واجب کېدو لپاره په خپله د زمکې څښتن کېدل هم شرط نه دي، ځکه چې د وقف شوې زمکې په حاصل کې هم عشر واجب دی، همدا رنګه که چیرته یو کس عاریةً یا اجارةً یا په کرایه باندې زمکه واخلي او په هغې کې زراعت کوي نو د هغې د حاصل عشر د همدغه کس په ذمه دی، د زمکې د څښتن په ذمه نه دی.

څو ضروري مسایل:

د عشر ټول مستحقین د زکات د مستحقینو په څېر دي.

د زکات په څېر باید عشر هم په تملیک ورکړل شي یعني اخېستونکی یې مالک وګرځول شي.

د عشر په ځای نور اجناس یا نغدې پیسې هم ورکول جایز دي.

له پاو کم دوه سېرو څخه کم حاصل کې عشر نشته.

په عشر کې مال باندې د کال تېرېدل شرط ندي.

که یو چا باندې قرض وي نو هم عشر پرې واجب دی.

د خلافت د نشتون زیانونه

لیکوال: مولوي ذاکر اللّٰه مجاهد

د مسلمانو یوه لویه بدمرغي دا ده چې د د اسلامي نظام او خلافت تصور ورڅخه ورک شوی دی.

د اسلامي نړۍ د اهل علمو او علماء کرامو وجیبه دا ده چې په خپلو وعظونو، تصنیفونو او نورو دعوتي لړیو کې د خلافت په اهمیت او اړتیا باندې ټینګار او تمرکز وکړي.

د خلافت د فرضیت عقیده یوازې د تحریک طالبان، اسلامي امارت او یا دارالعلوم دیوبند عقیده نده، بلکې دا د ټولې اسلامي نړۍ عقیده ده.

کله چې مونږ اسلامي تاریخ له نظره تېروو، نو څرګندېږي چې د مسلمانانو رعب او دبدبه په باقي نړۍ تر هغه وخته حاکمه وه ترڅو چې خلافت قایم و.

د عثماني خلافت د ړنګېدو څخه وروسته چې کله د پاسپورټ او ملکي کرښو وحشي نظام مخې ته راغی، نو مسلمه امت یې په څو حصو تقسیم کړ.

یو مسلمان امت اول ۵۷ ځایه تقسیم او بیا په خپل منځ کې سره اخته شو، بلکې د ټولې نړۍ د جنګونو ډګر هم دوی وګرځېدل.

بل طرف ته، د اسلام اصلي نظریه او تصور یې د ملي قانون، اساسي قانون، قوم، هېواد او داسې نورو شعارونو سره په یوځای کېدو او بدرګې پیکه او د امت اتفاق او وحدت درې ورې کړ، چې په نتیجه کې یې اوس د هر اسلامي هېواد ځانته اسلام دی، کوم چې د هر هېواد اساسي قانون ته په کتو جوړ شوی دی.

چیف جسټس یا قاضي القضات فائز عیسی څو میاشتې مخکې په یو بیان کې وویل، چې لومړی اساسي قانون دی بیا اسلام.

دا یوازې یو بیان نه بلکې د ټول غربي نظام یوه خلاصه ده، چې په جمهوري هېوادونو کې اساسي قانون همېشه د عوامو تش په نوم استازي (چې اکثریت یې بدایه، زوراکي او د پوځ لاسپوځي سیاستوال وي) جوړوي. په دې لاسي جوړ شوي قانون کې چې کوم مقام اسلام ته ورکړل شوی وي، هماغه د دې هېواد اسلام وي. کومه خبره چې د دوی د کتو په خلاف خنده وي، هغه له اسلام څخه باسي او بیا که څوک انفرادي یا تنظیمي شکل کې د دې په خلاف خبره کوي، نو هغوی د ترهګرو، شرپسندو، تروریستانو او سخت دریځو په څیر په ګنو نورو نومونو یادوي.

هېره دې نه وي، چې دا هرڅه د خلافت د نشتوالي په وجه منځته راغلي دي، دا د خلافت د نشتون سزا ده چې مسلمانان په روهنګیا کې هم خوار دي، په کشمیر کې

هم ظلمونه زغمي، په هندوستان کې هم د مشکلاتو نه ډک ژوند تېروي او په فلسطين کې هم د درېيو نسلونو څخه د ظلمونو ښکار دي، دا ځکه چې د مسلمانانو سره زور او طاقت نشته، زور او طاقت ورسره ځکه نشته چې له خلافت څخه بې برخې دي، نو هيڅوک هم د فلسطين د مظلومو مسلمانانو په ښکاره توګه مرسته نشي کولای، داچې د اسلامي هېوادونو په نوم جال يې خپور کړی او د نړېوالو او ملکي قوانينو نغاري يې جوړې کړي دي، په دې سره يې د ټولو اسلامي هېوادونو لاسونه تړلي دي.

هوکې؛ داچې د اسلامي خلافت فکر او تصور نشته، همدا لامل دی چې د اسلامي هېوادونو څخه يو يې هم د اسلامي هېواد په توګه د دوی نظامي ملاتړ او مرسته نشي کولای، بلکې محض د بشرپالنې او بشري حقوقو تر نامه لاندې په رسنيو کې د غندنې بيانونه ورکوي او يوڅو هېوادونه او د هغوی ځينې خيريه بنسټونه چې د مظلومو فلسطينيانو سره د خوراکي موادو او غذايي توکو مرستې کوي.

دا د خلافت د نشتون لامل دی چې نن مسلمانانو ته دا درس ورکول کېږي، چې همدا مونږ د يو هېواد استوګن يو ملت او قوم يو. پاکستاني مسلمانان تر پاکستانه، عرب تر عربو، افريقايان تر افريقا پورې محدود ساتل شوي دي. هغه مفکوره چې د حج په مهال تر سترګو کېږي، هغه نن تر حج پورې محدوده شوې ده، د خلافت سقوط د مسلمان څخه د مسلمان په توګه پېژندګلوي اخيستې او هغه يې د سعودي، عماني، ترکي، پاکستاني او هندوستاني په توګه معرفي کړی دی.

عامه ذهنيت داسې جوړ شوی چې ګوندې د بيت المقدس قضيه د فلسطينيانو مربوط ده، که مذهبي حلقې يې په حقله وپوښتل شي، نو وای د فلسطينيانو دې يواځې مالي ملاتړ وکړای شي، داسې هېڅ کله نه وای چې القدس د مسلمانانو لومړی قبله ده او د ټولې اسلامي نړۍ پر مسلمانو جهاد فرض شوی او د ټولې اسلامي نړۍ دا وجيبه ده چې بيت المقدس د وحشي صهيونستانو له منګولو څخه ازاد کړئ، خلافت رامنځ ته کړئ، د خلافت د نشتون له امله د مسلمانو خپلمنځي خواخوږي له منځه تللې ده.

مولانا ابوالکلام آزاد په خپل کتاب "قرآن کا قانون عروج و زوال" کې د سورة النساء ۵۹ آيت په تفسير کې ليکي چې:

په دې آيت کې مبارکه کې قرآن مجيد د دې شرعي قانون اعلان کړی، چې د خليفه او امام اطاعت په مسلمانانو باندې فرض دی او د هغه وجود د دې نظام د مرکزي اقتدار واکمن، ولې چې د يو جماعت د جماعت په څېر ژوند د مرکزيت د نشتون په صورت کې ناشونی دی.

کله چې څوک يو پېنځه کسيز مجلس

راغــوارې، نــو لومــړی د مجلــس امیــر تعینــوي، ولــې چــې د مجلــس د امیــر نشــتون پــه صــورت کــې مجلــس یــوې پاېلــې او پریکــړې تــه نشــي رســېدلای. کلــه چــې پوځــي لیکــې جــوړوي، نــو د لســو عســکرو پــه ســر هــم یــو افســر تعینــوي او د نوموړي افســر امــر پــه ماتحتــو عســکرو بانــدې فــرض ګڼــل کېــږي او د امــر نــه منــل یــې د پوځــي دســپلین د درې ورې کېــدو ســبب کېــږي.

څرګنــده شــوه، چــې د لســو نفــرو یــو ټولــی د یــوه مشــر او مســؤل د نشــتون پــه صــورت کــې ســالم نشــي پاتــې کېــدای، نــو بیــا بــه یــو قــوم او ملــت د یــوه امیــر پــه نشــتون کــې څنګــه خپلــې ورځــې او نــورې چــارې پــر مــخ یوســي.

کــه مونــږ خپلــو کورونــو او کورنیــو تــه وګــورو، خپلــه زمونــږ کــور او کورنــۍ هــم د یــوې ورې ټولنــې پــه څېــر وي. کــه ښــځه د خاونــد خبــره ونــه منــي، کــه نــوره کورنــۍ د کورنــۍ د سرپرســت خبــره ونــه منــي، نــو ولــې کورنــۍ مشــکل او تاوتریخوالــي رامنــځ تــه کېــږي؟

او پــه اړه یــې داســې ویــل کېــږي چــې پــه فلانــي کــور او کورنــۍ کــې ســوله او نظــم نشــته هــره ورځ د خپــل منځــي تاوترخوالــي شــاهدان وي، دا هرڅــه ولــې پېښــېږي؟ تنهــا دا نــه چــې یــوه ډلــه تــر هغه وختــه منظمــه کېــدای نشــي چــې ترڅــو یــې امیــر او رهبــر معلــوم نــه وي، بلکــې کــور او کورنــۍ هــم د یــوې ډلــې او جماعــت پــه څېــر وي، او دا ډلــه تــر هغــه وختــه ســالمه او منظمــه پاتــې کېــدای شــي تــر څــو د خپــل مشــر یــا امیــر اطاعــت او د هغــه لارښــوونې تعقیــب کــړي، او اســلام هــم دا وایــي چــې ملتونــه تــر هغــې د یــو نظــم تــر چتــر لانــدې نشــي راتــلای ترڅــو چې یــو مرکــزي امیــر خلیفــه او واکمــن ټــاکل شــوی او د هغــه پــه لارښــوونو عمــل نــه وي شــوی.

فکــر وکــړئ! کــه اوس وخــت کــې امــام مهــدي راشــي، نــو څــوک بــه د ده ترڅنــګ ودرېــږي؟ امــام مهــدي بــه د کــوم اســلامي هېــواد قانــون تعقیــب کــړي؟ آیــا کــوم هېــواد شــته چــې د امــام مهــدي د لښــکر ســره بــه یــو ځــای شــي؟ د مصــر، پاکســتان، اردن یــا د نــورو هېوادونــو پوځونــه بــه د چا ســره ودرېــږي؟ تاســې بایــد دا ومنــئ! چــې همــدا جهــادي ډلــې او تنظیمونــه بــه د امــام مهــدي د لښــکر مرســتندویان او برخــه وي، دا جهــادي تنظیمونــه چــې د اســلامي نظــام د قیــام لپــاره هڅــې کــوي، همــدوی د خلافــت د بنســټ ډبــرې ږدي.

همــدا جهــادي ډلــې او تنظیمونــه بــه بریالي کېــږي او د اســلام بېــرغ بــه هــم د دوی پــه لاســونو پــه ټوله نــړۍ رپانــد شــي. د هــر مســلمان وجیبــه ده چــې د اســلامي نظــا او خلافــت پــه ارزښــت ځــان پــوه کــړي، د هــر دینــي عالــم دنــده ده چــې پــه خلکــو کــې د اســلامي نظــام د ارزښــت پــه اړه پوهــاوی رامنځتــه کــړي، ترڅــو پــه مســلمانانو کــې د حــق ترڅنــګ د ودرېــدو شــعور را پېــدا شــي.

علامه اقبال لاهوري رح وايي:

چین و عرب ہمارا، ہندوستان ہمارا
مسلم ہیں ہم، وطن ہے سارا جہاں ہمارا

چين او عربستان زمونږ دی، هندوستان زمونږ دی
مسلمانان یو مونږ، ټوله نړۍ زمونږ وطن دی

د انقلاب ورېمي

نـــه ربــاب او نـــه ســـندرې درتـــه ېدم
لـــه غزلـــه ملغلـــرې درتـــه ېدم

ښـــه پـــه غـــور بـــه يـــې واورې لارويـــه
انـــقلاب و، څوخبـــرې درتـــه ېدم

دا زه نـــه يـــم، د لښـــکر کيســـې راسـپړم
هيلـــې مرانـــدې مـــرورې درتـــه ېدم

تنهايـــي وه، څـــه مرګونـــی اطاعـــت و
ترمـــې اوښـــکې مهاجـــرې درتـــه ېدم

د خـــدای څـــار دی درپســـې څاروانـــه ځيـــر شـــه
د اســـمان کمـــرې څارګـــرې درتـــه ېدم

د لالـــي غوښـــې يـــې تاتـــه نذرانـــه کـــړې
پېغلـــې اوښـــکې بڼـــورې درتـــه ېدم

ســـعيدی مولانـــا ځـــم لـــه کـــوه قافـــه
ښـــاپېری لکـــه زرګـــرې درتـــه ېدم

سعيدي مولانا

د انقلاب وږمې

بیا وخت د پسرلي شو، تشکیلونه روانېږي
د هند غزاء شوه ګرمه، لشکرونه روانېږي

هلکه مجاهده مهاجره! ځان تیار کړه
له غرو د خراسان نه موکلونه روانېږي

په غرونو واوره ویلې شوه، مزل کوه زلمیه
چې پاتې له کاروان نشې، جنګونه روانېږي

مزلونه به اغزن وي، هم ستړیاوي تکلیفونه
ورځه په مخ دې ښه شه، کاروانونه روانېږي

تپوس د عافیې خورکړو له دې دُختر فروشو
چمتو شه طالب جانه! قطارونه روانېږي

اصنام د جمهوریت به د توحید په غشو اولوو
تیار شه چې ډلګۍ ډلګۍ ګروپونه روانېږي

دا څه لیونۍ مینه که جنون که فلسفه ده
ځوانان له سره تېر دي، سپین مخونه روانیږي

صدیق سهام د دغه قافلې سره به مل وي
چې کله مو د هند په لور پوځونه روانېږي

صدیق سهام

د انقلاب وږمې

پېـل د هنـد غـزا ده، د تکبیـر پـه شـور
جنـګ تـه دي روان، غمـي غمـي زلمـي

دا د ابراهیـم خلیـل پـه لاره روان
ځـي د لمبـو غېـږې تـه، ورځـي زلمـي

مینـه کـې وفـا د هـر چـا کار نـدی
مینـه غـواړي داسـې لېونـي زلمـي

پېغلـې پـه راحـت پـه کـور کـې خونـد کـوي
سـختې بـه پـه ځـان بانـدې ګالـي زلمـي

بیـا شـو پسـرلی د تشـکیل ورځـې دي
بیـا بـه تـورو غرونـو تـه راځـي زلمـي

را بـه شـي هاشـمه اسلامـي نظـام
وي چـې مـو ژونـدي دا جهـادي زلمـي

هاشم سادات

د انقلاب وږمې

په ګوزارونو د سهار او د لمر شپه ماتېږي
قيام پکار دی، د جهاد لمونځ په قاعده ماتېږي

څومره ګران کار دی، ماتول زما بيخي ګران دي خو
چې زه ماتېږمه، دښمن به را سره ماتېږي

دومره نازک دی لکه اوښکه د شبنم جانانه
زړه مې کړو تاته امانت، خيال يې ساته ماتېږي

هسې پلمې کوې، په راز دې د زړه ښه پوهېږم
د سترګو ست کې دې جانانه بهانه ماتېږي

ماتول غواړي د تندي د جهاد لمونځ داسې دی
قيام يې شرط دی، په قاعده او په سجده ماتېږي

پام د ډبرو د باران په کې وس نه رسېږي
خو په ترخه کيسه زما د زړه شيشه ماتېږي

زما مقدس جنون ته ستا د غرور غرونه خم دي
د يار د برندو سترګو هم ورته نشه ماتېږي

ښکار د ليوانو شي رهبره هم شي وه څپله
چې څاروان نه لري هم هغه قافله ماتېږي

مهاجر رهبر وزير

96 تول بریدونه

2024م کال د اپریل (رمضان المبارک-شوال المکرم)



اووښتي تلفات
243
109 وژل شوي
134 ټپیان

د عملیاتو ډولونه

22	سنائپر یا لیزري بریدونه
07	تعارضي بریدونه
12	لاسي بمونه/بمي چاودنې
13	کمینونه
17	هدفي بریدونه
11	ځوابي بریدونه
11	چریکي بریدونه
03	توغندیز بریدونه

له دښمن څخه د مجاهدینو لاسته ورغلې وسلې

?	یو شمېر مرمۍ
02	میله جي ترې
05	میله کلاشینکوفونه

تخریب

10 کشفي کمرې
07 عراده پوځي وسایط
02 عراده د پولیسو موټر



UMAR MEDIA

تحریک طالبان پاکستان
HTTPS://UMNEWS.NET



اپریل

د ۲۰۲۴م کال د اپریل (رمضان المبارک – شوال المکرم) په میاشت کې د تحریک طالبان پاکستان د بریدونو تفصیلي راپور!

د ۲۰۲۴م کال د اپریل (رمضان المبارک – شوال المکرم) په میاشت کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو او سرسپارلو مجاهدینو له لوري د هېواد په لراوبر کې په ناپاک پوځ او همداراز نورو اجیرو او ظالمو شریعت دښمنه امنیتي ادارو باندې ټولټال ۹۷ لوی او واړه بریدونه ترسره شوي، چې په ترڅ کې شاوخوا ۲۴۴ پوځیانو، ایف سي عسکرو او پولیسو ته درنه مرګ ژوبله او تلفات اوښتي دي.

د بریدونو تفصیلي راپور په لاندې ډول دی.

د بنو ولایت د خاص بنو ولسوالۍ اړوند د میریان په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان سرسپارلو ښاري مجاهدینو د حسن خان په نوم یو امنیتي کارکونکی، چې د اصل میر زوی و، او د بهاولپور په پوځي کیمپ کې یې دنده ترسره کوله، میریان تانې ته څېرمه د یو چریکي برید په ترڅ کې په نښه کړ، چې په پایله کې یې نوموړی مرګوني ټپي شو.

د بنو ولایت، د شمالي وزیرستان اړوند د میرعلي ولسوالۍ د حیدر خېلو، حسو خېلو او باړه خېلو په کلیو کې ناپاک پوځ په عامه کورنو چاپه واچوله، چې د چاپې پرمهال یې ګڼ بې ګناه وګړي شکنجه او ځیني یې له ځانه سره بوتلل. په حیدر خېلو کې یې د چاردېوالۍ حرمت او تقدس تر پښو لاندې کړ او د بې ګناه کلیوالو د کور ځیني کوټې یې ویجاړې او ګڼ شیان یې مات او چور کړل. انا للّٰه وانا الیه راجعون

د بنو ولایت، د شمالي وزیرستان اړوند د مېرعلي

ولسوالۍ د کلي خېلو په سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان اتلو مجاهدينو دوه تنه اجير پوځيان د درازکوف په مټ په نښه کړل.

د بنو ولايت د ډومېل ولسوالۍ اړوند د بنو ټاون په سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان شازلميو مجاهدينو د پوليسو يو وېن ډوله موټر د کمين ښکار کړ، چې په پايله کې يې شپږ تنه پوليس سرټېري ټپيان شول.

د پېښور ولايت، د خيبر ايجنسۍ اړوند د باړې ولسوالۍ جانسي کېمپ سره نېږدې د ناپاک پوځ يو کاروان د تحريک طالبان پاکستان اتلو مجاهدينو لخوا د يو اتلوال کمين ښکار شو، مجاهدينو په ياد کمين کې د راکټ لانچرو او لېزري ټوپکو څخه هم کار واخيست، چې په ترڅ کې يې يو موټر تخريب او پکې سپاره ټول عسکر مړه او ټپيان شول او پاتې نور يې په تېښته بريالي شول.

د پېښور ولايت، د خيبر ايجنسۍ اړوند د باړې ولسوالۍ په کوهي سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان سربښيندونکو مجاهدينو پر ايف سي ځواک د يو کمين په ترڅ کې بريد وکړ، چې په پايله کې يې د ايف سي ګڼ شمېر عسکر مړه او ژوبل شول.

د پېښور ولايت، د خيبر ايجنسۍ اړوند د باړې ولسوالۍ په تيرا مېدان سيمه کې ناپاک پوځ د تحريک طالبان پاکستان يو مرکز درې ورځې په دوامداره توګه د بمبارۍ لاندې ونيو او ورسره يې هممهاله خواوشا سيمه هم محاصره کړه، خو مجاهدينو ملګرو په ځوابي بريد سره محاصره ماته او بزدله پوځ شاتګ ته اړ کړ، په دې خونړۍ نښته کې د مجاهدينو په لاس ګڼ شمېر پوځيان مړه او ژوبل شول.

د ډېره اسماعيل خان ولايت د ټانک ولسوالۍ په باي پاس سړک بانډې د تحريک طالبان پاکستان اتلانو د يو پوځي قطار مل پوځي موټر د ځمکني ماين په واسطه منفجر کړ، چې له امله يې په موټر کې سپاره ټول عسکر مړه او ټپيان شول.

د بنو ولايت، د شمالي وزيرستان اړوند د کرېوم ولسوالۍ په کانډې کاکاخېلو سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان ښکارچيانو دوه پوځيان د درازکوف د بريد ښکار کړل، چې په پايله يې پوځي ځای په ځای مړ او بل ژوبل شو.

د بنو ولايت، د شمالي وزيرستان اړوند د ميرانشاه ولسوالۍ په تپي سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان نښان ويشتونکو شازلميو پر يوې پوځي پوستې د درازکوف پر مټ بريد وکړ، چې په ترڅ کې يې يو پوځي ووژل شو.

د بنو ولايت د مرکزي بنو ولسوالۍ اړوند د ميراخېلو په سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان مجاهدينو يو پوليس چارواکی بختيار علي ولد قمر علي په يو هدفي بريد کې وواژه.
ياده دې وي، چې نوموړی پوليس چارواکی زمونږ د څو تنو مجاهدينو په شهادت کې د ککړتيا ترڅنګ اسير شويو مجاهدينو ته شکنجه هم ورکوله.

د د ډېره اسماعيل خان ولايت د کلاچۍ ولسوالۍ اړوند د روړي سرک پر سر پرته د پوليسو د تلاشۍ پوسته د تحريک طالبان پاکستان د مجاهدينو لخوا د لېزري ټوپکو په وسيله تر بريد لاندې راغله، چې په ترڅ کې يې يو پوليس مړ او بل ټپي شو او همدارازيوه څارونکې ډرون کېمره هم ويجاړه شوه.

د بلوچستان صوبې په هرنايي ضلع کې د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري د ناپاک پوځ په کاروان باندې د زېړې بوشکې په مټ درنه چاؤدنه ترسره شوه، چې په ترڅ کې د ناپاک پوځ يو ستر پوځي موټر په بشپړ ډول تخريب او يکې سپاره دولس تنه اجير پوځيان ټپيان او ووژل شول.

د ډېره اسماعيل خان ولايت، د جنوبي وزيرستان اړوند د اعظم ورسک ولسوالۍ د مانې په سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان اتلو مجاهدينو يو پوليس په ډزو ووژه.

د ډېره اسماعيل خان ولايت په درابن ولسوالۍ کې د تحريک طالبان پاکستان اتلو مجاهدينو د ناپاک پوځ په کاروان کمين وواهه، چې په ترڅ کې يې غلام دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته، خو کره شمېر يې نه دی ترلاسه شوی.

د ډېره اسماعيل خان ولايت په درابن ولسوالۍ کې د تحريک طالبان پاکستان اتلو مجاهدينو د ناپاک پوځ په کاروان کمين وواهه، چې په ترڅ کې يې اجير پوځ ته درانه مالي او ځاني تلفات واوښتل.

د ډېره اسماعيل خان ولايت په کلاچۍ ولسوالۍ کې لومړی ډرون بريد ترسره شو، ورپسې د ناپاک پوځ له لوري چاپه ووهل شوه، چې د مجاهدينو له لوري په شا وتمبول شوه.

د بنو ولايت د سرای نورنګ ولسوالۍ اړوند د منجي والا په سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري په پوليسو باندې کمين ووهل شو، چې په ترخ کې يې د ډي ايس پي ګل محمد په شمول درې تنه پوليس ووژل شول او پنځه نور يې ټپيان شول.

د پېښور ولايت د اشوخېلو کندې په سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري د ابوبکر په نوم د ناپاک پوځ او استخباراتي ادارو يو جاسوس چې د قرار خان زوی و، ونيول شو. خو وروسته د سيميزو قومي مشرانو او مخورو په دې سپارښتنه چې له دې وروسته به د مجاهدينو خلاف فعاليتو کې ونډه نه اخلي، خوشې شو.
بايد ووايو، چې ياد هلک اجير او وحشي پوځ د يولړ پوځي عملياتو پرمهال نيولی او له ځانه سره بوتلی و، چې وروسته يې ورسره د اسارت پرمهال ناوړه چلند او غلط کار هم کړی و، چې يکې د ايم آئي وحشي اداري مېجر سميع، احمد، فهيم او سلطان په نوم چارواکي ښکېل وو، له هغه وروسته يې ورځخه د بليک مېلېنګ له لوري د مجاهدينو جاسوسي هم کوله.

د ملاکنډ ولايت، د باجوړ ايجنسۍ اړوند د لوی ماموند ولسوالۍ د برخلوزو مورچې ته څېرمه د تحريک طالبان پاکستان اتلو مجاهدينو د

پولیسـو پـه یـو موټـر د ځمکنـي مایـن پـه مـټ چاؤدنـه ترسـره کـړه، چـې پـه تـرڅ کـې یـې د بخـت زاده پـه نـوم د پولیسـو یـو کارمنـد چـې د اسـتخباراتو جاسـوس هـم و، ووژل شـو او کانسـټېبل احسـان اللّه مرکونـی ټپـي شـو.

د ډېـره اسـماعیل خـان ولایـت د ټانـک ولسـوالۍ اړونـد د بنـو سـړک پروکېشـنل کالـج تـه څېرمـه د تحریـک طالبـان پاکسـتان د اتلـو مجاهدینـو لـه لـوري د ظاهـر شـاه پـه نـوم د سـي ټـي ډي وحشـي اداري یـو افسـر د یـو چریکـي بریـد پـه تـرڅ کـې پـه نښـه او ووژل شـو.

د بنـو ولایـت د لکـي مـروت ولسـوالۍ اړونـد کېچـي قمـر پـه سـیمه کـې ناپـاک پـوځ د ځایـي تحریـک طالبـان پاکسـتان پـه مجاهدینـو چاپـه ووهلـه، مجاهدینـو پـه ځوابـي بریـد کـې شـپږتنـه اجیـر پوځیـان ووژل او پخپلـه لـه سـیمې څخـه پـه وتلـو کـې پـه بشـپړ ډول بریالـي شـول.

د بنـو ولایـت، د شـمالي وزیرسـتان اړوند د میرانشـاه ولسـوالۍ د تپـي پـه سـیمه کـې د تحریـک طالبـان پاکسـتان اتلـو مجاهدینـو د ناپـاک چاپـه ناکامـه او لـه سـیمې څخـه پـه وتلـو کـې بریالـي شـول.

د بنـو ولایـت، د شـمالي وزیرسـتان اړونـد شـوې ولسـوالۍ د شـادیمي پـه سـیمه کـې د ایـف سـي عسـکرو پـه موټـر د تحریـک طالبـان پاکسـتان اتلـو مجاهدینـو د ځمکنـي مایـن پـه مـټ چاؤدنـه ترسـره کـړه، چـې پـه تـرڅ کـې یـې دري تنـه عسـکر ووژل شـول.

د بنـو ولایـت، د شـمالي وزیرسـتان اړونـد د مېرعلـي ولسـوالۍ د شـین لـګاډ پـه سـیمه کـې د تحریـک طالبـان پاکسـتان اتلـو مجاهدینـو د ایـف سـي یـو عسـکر د درازکـوف پـه مـټ وواژه.

د بنـو ولایـت، د شـمالي وزیرسـتان اړونـد د ګریـوم ولسـوالۍ د ګـور ړانګـي پـه سـیمه کـې د تحریـک طالبـان پاکسـتان د اتلـو مجاهدینـو لـه لـوري د ناپـاک پـوځ یـو غـلام عسـکر د درازکـوف پـه مـټ ووژل شـو.

د بلوچسـتان صوبـې پـه هرنایـي ضلـع کـې پـه یـو پوځـي کاروان د تحریـک طالبـان پاکسـتان د اتلـو مجاهدینـو لـه لـوري د ځمکنـي مایـن پـه مـټ درنه چاؤدنـه ترسـره شـوه، پـه یـاده چاؤدنـه کـې شـلو پوځیانـو تـه مـرګ ژوبلـه واوښـته، چـې اولـس پوځـي سـرتېري پکـې ووژل شـول او پاتـې نـور یـې مرکونـي ټپیـان شـول.

د ډېـره اسـماعیل خـان ولایـت پـه درابـڼ ولسـوالۍ کـې د تـش پـه نـوم امـن کمېټـې (ځایـي پاڅـون کوونکـو اربکیانـو) پـه یـو موټـر د تحریـک طالبـان پاکسـتان د اتلـو مجاهدینـو لـه لـوري بریالـی کمیـن ووهـل شـو، چـې پـه تـرخ کـې یـاد موټـر تخریـب او دښـمن تـه پکـې درانـه مالـي او ځانـي تلفـات واوښـتل.

د ډېـره اسـماعیل خـان ولایـت د کومـل ولسـوالۍ پـه مربوطاتـو کـې د یـادي ولسـوالۍ د پولیسـو پـه حـوزوي مرکـز د تحریـک طالبـان پاکسـتان د اتلـو او سرښـیندونکو مجاهدینـو لـه لـوري د لېـزري وسـلو او راکـټ لانچـرو پـه مـټ برید ترسـره شـو، چـې

په ترڅ کې یې د غلام دښمن لخوا نصب شوې دوه عدده څارونکې امنیتي کیمرې او یاده ودانۍ په سخته توګه تخریب شوه، همداراز کڼ مالي او ځاني تلفات هم ور واوښتل خو کره شمېر یې نه دی ترلاسه شوی.

د بنو ولایت، د شمالي وزیرستان اړوند د مېرعلي ولسوالۍ د خېسور شوکي په سیمه کې د ناپاک پوځ په مانزې نومې پوستې د دارکوف په مټ برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې دوه تنه اجیر پوځیان ځای په ځای ووژل شول او یو بل یې مرګوني ټپي شو، همداراز یوه څارونکې کمره هم تخریب شوه.

د بنو ولایت، د شمالي وزیرستان اړوند د ګریوم ولسوالۍ د ډکې شواون په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ناپاک پوځ په ټانګ د ځمکني ماین په مټ چاودنه ترسره شوه، چې په ترڅ کې یې دوه تنه اجیر پوځیان ځای په ځای ووژل شول او دوه نور یې ټپیان شول، ورپسې د زخمیانو د لېږد لپاره په راتلونکې پوځي کاروان هم د دارکوف په مټ برید ترسره شو، چې په پایله کې یې دوه نور پوځیان ووژل شول.

د ملاکنډ ولایت د شانګلي ولسوالۍ اړوند د ډاکسر په سیمه کې د ناپاک پوځ په هغه کاروان چې غوښتل یې د تحریک طالبان پاکستان په مجاهدینو چاپه ووهي، د مجاهدینو له لوري کاري دفاعي برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې د ناپاک پوځ یو موټر تخریب او کڼ شمېر پوځیان ټپیان او ووژل شول.

د ډېره اسماعیل خان ولایت، د جنوبي وزیرستان اړوند د اعظم ورسک ولسوالۍ د زلائي قلعې ته څېرمه په پوځي چیک پوسټ باندې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د دارکوف په مټ برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې یو عسکر ووژل شو او یو بل یې ټپي شو، همداراز د دښمن یوه څارونکې امنیتي کېمره هم تخریب شوه.

د بنو ولایت، د شمالي وزیرستان اړوند د مېرعلي ولسوالۍ د خېسور تانګرې سیمې د ډېپ سر په پوځي پوستې باندې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د دارکوف په مټ برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې دوه تنه اجیر پوځیان ځای په ځای ووژل شول.

د ډېره اسماعیل خان ولایت په درابن ولسوالۍ کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د غلام رژیم په اجیرو پولیسو بریالی کمین ووهل شو، چې په ترڅ کې لږترلږه شپږ تنه اجیر پولیس ووژل شول او کڼ شمېر نور یې ټپیان شول.
باید ووایو، چې مجاهدینو له وژل شویو پولیسو څخه دوه میله کلاشینکوفونه هم د غنیمت په توګه ترلاسه کړل.

د ډېره اسماعیل خان ولایت، د جنوبي وزیرستان په سراروغي ولسوالۍ کې د تحریک طالبان پاکستان د مجاهدینو له لوري د ناپاک پوځ په یوې پوستې د لېزري ټوپک په مټ برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې یو تن اجیر پوځي ځای په ځای ووژل شو.

د ډېره اسماعيل خان ولايت، د جنوبي وزيرستان اړوند د شکتوئی ولسوالی د صبرای سر په سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري د ناپاک پوځ يو غلام عسکر ووژل شو، همداراز د دښمن يوه څارونکې امنيتي کمره هم تخريب شوه.

د ډېره اسماعيل خان ولايت، د جنوبي وزيرستان اړوند د شکتوئی ولسوالی د تريخ تلائي په سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري د ناپاک پوځ يو سرتېری د درازکوف په مټ ووژل شو.

د ډېره اسماعيل خان ولايت د کلاچی ولسوالی اړوند د مډي په سيمه کې ناپاک پوځ د تحريک طالبان پاکستان په مجاهدينو د کمين وهلو هڅه وکړه، خو مجاهدينو پرې د خپلو کشفي معلوماتو پر اساس پريکنده کاري دفاعي او ځوابي بريدونه ترسره کړل او له سيمې څخه په وتلو کې بريالي شول، خو شيبه وروسته د مجاهدينو له لوري د سيمې څخه د بېرته ستنېدو پرمهال په ناپاک پوځ دوهم ځل کمين ووهل شو، چې په ترڅ کې يې غلام دښمن ته کڼ شمېر مالي او ځاني تلفات واوښتل، خو کره شمېر يې نه دی ترلاسه شوی.

د پېښور ولايت، د خيبر ايجنسی اړوند په باړې ولسوالی کې د تحريک طالبان پاکستان د استخباراتي ادارې ټي آئي اې (طالبان انټيليجنس ايجنسي) له لوري د کنعان خان په نوم د پټو وحشي استخباراتي ادارو يو جاسوس، چې د سيد انور زوی او د بوټان شريف اوسېدونکی و، د يولړ چريکي عملياتو په ترڅ کې په نښه او ووژل شو.

د ملاکنډ ولايت، د باجوړ ايجنسی اړوند د سالارزو ولسوالی د درې په کلي کې د تحريک طالبان پاکستان اتلو مجاهدينو د ناپاک پوځ په موټر د ځمکني ماين په مټ چاودنه ترسره کړه، چې په ترڅ کې يې موټر تخريب او پکې سپاره ټول پوځيان ټپيان او ووژل شول.

د ډېره اسماعيل خان ولايت، د جنوبي وزيرستان اړوند د شکتوئی ولسوالی په چيټون پوځي کلا د تحريک طالبان پاکستان مجاهدينو د درازکوف په مټ بريد ترسره کړ، چې په ترڅ کې يې يو تن اجير پوځي ځای په ځای ووژل شو.

د پېښور ولايت، د خيبر ايجنسی اړوند د جمرود ولسوالی د خېل مزريني په سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له لوري د يادې ولسوالی ډي ايس پي (د امينه قومندان مرستيال) د يولړ چريکي عملياتو په ترڅ کې ووژل شو.

د ډېره اسماعيل خان، د جنوبي وزيرستان اړوند د شکتوئی ولسوالی د ټېپ سر په پوځي پوستې د تحريک طالبان پاکستان اتلو مجاهدينو بريد ترسره کړ، چې په ترڅ کې يې غلام دښمن ته کڼ شمېر مالي او ځاني تلفات واوښتل.

د پېښور ولايت، د خيبر ايجنسی اړوند د باړې ولسوالی د بر قمبر خېلو په سيمه کې د تحريک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدينو له

لــوري د ټــل ۲۷۱ ســکاوټس يــو امنيتــي ســرتېرى د يولــړ چريکــي عملياتــو پــه تــرڅ کــې پــه نښــه او ووژل شــو.

د هــزاره ولايــت د بټګــرام ولســوالۍ د ښــاري تانــې اړونــد د پوليســو د پــل پوســتې يــو برحالــه کانســټيبل چــې امجــد حســين نومېــده، د تحريــک طالبــان پاکســتان د اتلــو ښــاري مجاهدينــو لــه لــوري د يولــړ کاميابــو چريکــي عملياتــو پــه تــرڅ کــې پــه نښــه او ووژل شــو.
بايــد ووايــو، چــې مجاهدينــو لــه يــاد وژل شــوي پوليــس څخــه يــو ميــل کلاشــنکوف هــم د غنيمــت پــه توګــه ترلاســه کــړ.

د پېښــور ولايــت د مرکــز پېښــور ولســوالۍ اړونــد د باغبانانــو پــه ســيمه کــې د تحريــک طالبــان پاکســتان د اتلــو مجاهدينــو لــه لــوري د فرهــاد پــه نــوم د غــلام رژيــم د پوليســو يــو کانســټيبل د يــو چريکــي بريــد پــه تــرڅ کــې پــه نښــه او ووژل شــو. مجاهدينــو لــه يــاد وژل شــوي کانســټيبل څخــه يــو ميــل کلاشــنکوف هــم د غنيمــت پــه توګــه ترلاســه کــړ.

د پېښــور ولايــت، د خېبــر ايجنســۍ اړونــد د جمــرود ولســوالۍ د حيــات آبــاد ســيمې پــه دريمــې امنيتــي پوســتې د تحريــک طالبــان پاکســتان د اتلــو مجاهدينــو لــه لــوري د لېــزري وســلو پــه مټ بريــد ترســره شــو، چــې پــه تــرڅ کــې يــې د ايــف ســي يــو عســکر مړګونــى ټپــي شــو.

د ډېــره اســماعيل خــان ولايــت، د جنوبــي وزيرســتان اړونــد د شــکتوئۍ ولســوالۍ د شــوغر پــه ســيمه کــې د تحريــک طالبــان د اتلــو مجاهدينــو لــه لــوري پــه يــوې پوځــي پوســتې د درازکــوف پــه مټ بريــد ترســره شــو، چــې پــه تــرڅ کــې يــې دري تنــه اجيــر پوځيــان ځــاى پــه ځــاى ووژل شــول او همــداراز نــور ګــڼ شــمېر يــې ټپيــان شــول.

د ملاکنــډ ولايــت، د باجــوړ ايجنســۍ اړونــد د واړه مامونــد ولســوالۍ د ســفري پــه ســيمه کــې ناپــاک پــوځ د تحريــک طالبــان پاکســتان پــه مجاهدينــو د کميــن وهلــو هڅــه وکــړه، چــې د مجاهدينــو لــه ســختو کاري دفاعــي او ځوابــي ګذارونــو ســره مــخ شــول، چــې پــه تــرڅ کــې يــې دري تنــه اجيــر پوځيــان ځــاى پــه ځــاى ووژل شــول او مجاهديــن ملګــري لــه ســيمې څخــه پــه وتلــو کــې پــه بشــپړ ډول بريالــي شــول.

د ملاکنــډ ولايــت، د باجــوړ ايجنســۍ اړونــد د ناوګــۍ ولســوالۍ د هاشمســر پــه ســيمه کــې د تحريــک طالبــان پاکســتان اتلــو مجاهدينــو د ناپــاک پــوځ دوه تنــه غــلام عســکر د درازکــوف پــه مټ ووژل.

د ډېــره اســماعيل خــان ولايــت د کلاچــۍ ولســوالۍ اړونــد د روړي پــه ســيمه کــې د تحريــک طالبــان پاکســتان د مجاهدينــو لــه لــوري د ناپــاک پــوځ يــوه ډرون کيمــره پــه نښــه شــوه، چــې پــه تــرڅ کــې يــاده کيمــره تخريــب او راوپرځــول شــوه، چــې شــيبه ورو ســته يــې د پلټلــو لپــاره پــه راتلونکــي پوځــي کاروان د مجاهدينــو لــه لــوري کميــن ووهــل شــو، چــې پــه تــرڅ کــې يــې غــلام دښــمن تــه ګــڼ شــمېر مالــي او ځانــي تلفــات واوښــتل.

د پېښــور ولايــت، خېبــر ايجنســۍ اړونــد د بــاړې

ولسوالۍ د سران سر په پوځي پوستې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د درازکوف په مټ برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې یو تن اجیر مرګوني ټپي شو.

د ملاکنډ ولایت، د باجوړ ایجنسۍ اړوند د ناوګۍ ولسوالۍ د ډنډو سر په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ناپاک پوځ په یوې پوستې د درازکوف په مټ برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې یو تن اجیر پوځي ځای په ځای ووژل شو او همداراز د دښمن یوه څارونکې امنیتي کیمره هم تخریب شوه.

د پېښور ولایت، د خیبر ایجنسۍ اړوند د باړې ولسوالۍ د تیراه درې په دور بانډه سیمه کې ناپاک پوځ د تحریک طالبان پاکستان د مجاهدینو په یو مرکز ډرون برید ترسره کړ، چې په ترڅ کې یې اتل قومندان سهیل چې په عظمت مشهور و، (د جمرود ولسوالۍ د ولسوال معاون) سره د دوو نورو ملګرو شهید شو، او ورسره مل نور ملګري مجاهدین د الله تعالی په نصرت خپلو خوندي مرکزونه ته ستانه شول.

د پېښور ولایت، د خیبر ایجنسۍ اړوند د جمرود ولسوالۍ په مربوطاتو کې د پولیسو په ریګي ټاون تانې (حوزې) د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د لیزري وسلو په مټ برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې د غلام رژیم ګڼ پولیس ټپیان او ووژل شول.

د کوهاټ ولایت د ټل ولسوالۍ اړوند د سپین ټل په سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان اتلو مجاهدینو د ایف سي (سرحدي عسکرو) په یو چیک پوسټ د کڼو سپکو او درنو وسلو په مټ تندریز تعارضي برید ترسره کړ، چې په ترڅ کې یې اجیر دښمن ګڼ شمېر مالي او ځاني تلفات واوښتل خو کره شمېر یې نه دی ترلاسه شوی.

د بنو ولایت د خاص بنو ولسوالۍ اړوند د میریان شامدیکلي په نورړ روډ باندې د تحریک طالبان پاکستان د اتلو مجاهدینو له لوري د ایم آئي استخباراتي ادارې یو کارمند «رومان خان» د یو هدفي برید په ترڅ کې په نښه او ووژل شو.

د ډېره اسماعیل خان ولایت د کلاچۍ ولسوالۍ اړوند د روړي په سیمه کې په هغه شوونځي چې ناپاک پوځ پکې مېشت و، د تحریک طالبان پاکستان مجاهدینو برید ترسره کړ، چې له امله یې د وسلو یوه زېرمه په نښه شوه، هماغه و چې په یاد پوځي کمپ کې د سترو زورورو چاودنو ږغونه واورېدل شول.
باید ووایو، چې په یاد برید کې د ناپاک پوځ ګڼ شمېر سرتېري ټپیان او ووژل شول.

د کندهار په ابراهیم النخعي رحمه اللّٰه جامعه کې د قدرمن مشر تابه، امیرالمومنین شـیخ القرآن مولوي هبة اللّٰه اخند زاده صاحب حفظه اللّٰه د زرینو ویناوو لنډیز او مهمې نکتې

لیکنه: احمد جنید مبارز

۱_ علماء کرام، اللّٰه تعالی ته خوښ بندګان دي، د اللّٰه پاک د دین ساتونکي او نافذوونکي دي او دا ډول دوی د انبیاء کرامو وارثان دي.

۲_ اللّٰه پاک دې د علماء کرامو نصرت وکړي، که چېرته عالم وشـویدی، نو ټول امت ښویېږي. امام ابوحنیفه صاحب یو کوچني ته وایي، چې پښې ټېنګې لګوه غوځار نشې، کوچني ورته ویل چې ته خپله پښـې ټېنګې لګوه، زما غورځېدل ماته تاوان کوي اما ستا غورځېدل ټول امت ته تاوان کوي.

۳_ عالمـان په ټولنه کې د هر ډول ناروا او منکر کارونو څخه د راګرځولو او منعه کولو مسئولیت لري، باید ټول د منکراتو څخه راوګرځوي.

۴_ سیاسـت په اصل کې د علماوو دنده او مسئولیت دی، دنیاوالو او تېرو تاریخونو دا راښـودلې ده، چې علماء به سیاست نه کوي، بلکې دوی یې یواځې د مساجدو تر امامتونو پورې مربوط کړي وو.

۵_ زموږ د سیاسـت اصل دین، ایمان او شریعت دی، په هیڅ صورت کې د دغه درې شـیانو څخه نه اوړو او نه د دنیاوالو سره د دې درې اصولو او اساساتو بغیر تعامل کوو.

۶_ اوس وخت کې د خلفاء راشدینو او صحابه کرامو مسئولیتونه موږ ته سپارل شوي دي، نو باید چې په پوره مېړانه او قربانۍ سره یې ترسره کړو.

۷_ د غټو موبایلونو اسـتعمال د مجاهدینو، فاضلانو او په عموم کې باید بند شي، ځکه دا د فتنو دروازې راخلاصوي.

۸_ د علماوو په ارزیابۍ او سـند ورکولو کې باید ډېر احتیاط وشي، ځکه مو شخصي مدارســو کې تخصصات موقوف کړي دي، دا یو ښه فرصت دی چې په یو داسې جامعه کې تخصص وکړو، چې هر ډول امکانات یې برابر وي.

۹_ زه ټولو افغانانو ته وایم چې نورو ملکونو ته مه ځئ، وطن مه پرېږدئ، موږ ستاســو لپاره بدي ارادې نه لرو، بلکې ښـې ارادې درته لرو، د مال او ناموس ساتنه مو کوو.

۱۰_ مهاجرین دې خدای راولي، خپل وطن ته دې راشـي، موږ پلان لرو چې د یو مهاجر پر سـر یوه بېسوه ځمکه قطعي ورکړو. مهاجرین که په کور کې ۵ کسان وو، ۵ بېسوې ځمکه به ورکوو. که ۱۰ کسـان وو، ۱۰ بېسوې ځمکه به ورکوو، موږ یو طرزالعمل ورته جوړ وو.

قدرمن مشرتابه په ابراهیم النخعي رحمه اللّٰه د جامعې په ریاست کې تقریباً یونیم ساعته هراړخیزه وینا وکړه، چې پر ډېرو مهمو موضوعاتو مشتمله وه، ما حافظ احمد جنید مبارزي دغه پورته لیکل شـوې لس مهمې نکتې یاداښت او ستاسو سره شریکې کړلې، چې دا زما لپاره یوه مهمه او نه هېرېدونکې خاطره وه.